# بنیاد فرهنگی کهزاد
# د کهزاد فرهنګی بنسبنټ

د کهزاد فرهنګی بنسبنټ ګرانو پښتوژبو لوستونکو او علاقمندانو ته چه په افغانستان او پاکستان هیوادنو کښی اوسیږی، دا د **"د افغانستان پخوانی تاریخ"** لمړی فصل ته چه د ارواح ښاد علامه احمد علی کهزاد یو علمی شهکار دی، د استفاده کولو لپاره وړاندی کوی.

دا کتاب چه لمړی وار په دری/پارسی ژبه د ۱۳۲۵ کال د «انجمن تاریخ» له خوا خپور شو، دیری تودی هرکلی وشو او انجمن تاریخ بیا تصمیم ونیوه چه دغه کتاب ته پشتو هم کوی او هیوادوالو ته د استفادی ور وګرزوی.

سره له دی چی علامه کهزاد دا کار وکاوه او د پشتو لیکوالو په مرسته دغه لویه کتاب په پشتو متن برابر وکړ، مګر هیڅ وخت د متعصبو کسانو او دولتمردانو په نظر ښه نه ولیدل شول، دا د تعصبو دګو عالمان هغه وخت چی استاد کهزاد پنځه لس کاله د مریضی په بستر کښي پروټ وه، یو وار هم د دئ د لیدل کتنی ته نه راغلل. یو وار هم د یو رادیویی مرکی قصداً دی ته مرحوم هم خطاب کړل چه په خپله کښی هم اوریدلی وه. په هر حال علامه کهزاد د خپل آبایی وطن د تاریخ د روښانه کولو بی له کومی تعصب نه کار کړی وی او پخپله د هیڅ چا نه کوم شی نه غوښتل.

دا ټیکی ته له دی خاطر نه یاد مو وکړ چه قامی، ژبنې او داسی نور منفی اغیزناکو ګرایشونه او خاطري یوازی د ننۍ سیاسی استونزو له کبله منځ ته نه دی راغلی، بلکه له دیرو مودو زمونږ په هیواد کښی د تاسف نه دک مروج وی. یواځی اوس دیر روښان شوی دی او د بیان د آزادۍ له برکته ټول هیوادوال او جهانیان پکښی پوه شوی دی.

د افغانستان خلک ټول باید وپوهیږی چه د افغانستان آزادی، آبادی او د خلکو آرامۍ، یواځی او یواځی د افغانستان د ټولو قامونو، ژبو، مذهبونو او فرهنګ د مساوی حقونو د برابرولو سره منځ ته راشی او بل کوم معجزه نشی دغی ستونزو ته حلوی او یا ختموی./2 جنوری 2010/


**داکتر فریار کهزاد**
**بنیاد فرهنگی کهزاد**
پژوهشگاه تاریخ و باستان شناسی

# د افغانستان پخوانی تاریخ

لومړی جلد

مؤلف : احمد علی کهزاد

د پنځم فصل لومړی برخه

د اسکندر چپاوونه

مؤلف : محمد عثمان صدقی

د تاریخ د انجمن
له خپرو نوشخه
(٤١) نمبر ۱

# دافغانستان پخوانی تاریخ

لومړی جلد

مؤلف

احمدعلی کهزاد

* * *

د پنځم فصل لومړۍ برخه

د اسکندر چپاوونه

مؤلف

محمد عثمان صدقی

مهتمم

* * *

محمدیونس مراد

د ۱۳۳٤ کال د حوت میاشت

د چاپ شمېر: یوزر جلد

هغه کسان چه دافغانستان پخوانی تاریخ لومړی جلد ئی

په پښتو ترجمه کړی دی دادی :

(۱) ښاغلی محمد یونس مزاد د کتاب له ابتداله تر (۲۸۹) مخ پوری او د (۳۲۶) مخ نه تر (٤۳۲) مخ پوری

(۲) ښاغلی عتیق الله معروف : د(۲۸۹) مخ نه تر ۳۲٦ مخ پوری

(۳) ښاغلی غلام جیلا نی جلالی؛ د (٤۳۲) مخ نه تر ٤۹۰ مخ پوری

(٤) ښاغلی قیام‌الدین خادم : د (٤۹۰) مخ نه تر پای پوری .

بسم الله الرحمن الرحيم

## مقدمه

د ډېرې مودې انتظار نه وروسته اوس چې له پخوا د ۱۳۲۵ کال په لومړيو وختو کښې د افغانستان تاريخ لومړی جلد خپور شو . په دغه وخت د دغه کتاب په مقدمه کښې مو ياده کړه چه د افغانستان په تاريخ او فرهنګ کښې پنځلس کلنۍ دائمي مينې او دلچسپيو دغه عاجز ته توفيق ور کړ چه د وطن د تاريخ په لړ کښې ئې لومړی جلد خپور کړ د ۱۳۲۵ کال په وروستيو وختو په ځوميا شتو کښې د دغې دورې دوهم جلد نشر شو ، او په دغو دوو جلدو سره چه په يو زر پانو کښې دی د افغانستان د اسلام نه پخوا دورو تاريخ تکميل شو. او په هغو پسې د انجمن د غړو او يو هو همکارانو له خوا نور کتابونه، رسالې او فصلونه کرار کرار ميدان ته راووتل او خپاره شول چه خاصه د مينانو او علاقمندانو له نظر نه تير شوي وي .

نو ډېر خوشاله يم چه نن ورځ د افغانستان تاريخ لومړی جلد په پښتو خپرېږي او په نشر يدو سره ئې نوره خوشالي او افتخار د بنده او د تاريخ د ټولنې په نصيب کېږي .

افغانستان د خپل جغرافيائي موقعيت له کبله د منځنۍ آسيا په څلور لاريزې (چهار راه) کښې د شرقي آسيا په تاريخ او تهذيب کښې له پخوا زمانې څخه تر نن ورځې پورې مهم مقام لري چه د هغه د مراتبو روښانه کول سربېره په هغې ګټې او فائدې چه زمونږ او زمونږ د مملکت د پاره ئې لري د شرق د دې څنډې په عمومي تاريخ او فرهنګ د نيا کښې د اسې مقام لري چه ممکنه نه ده په پټو سترګو ورځني تېر شو .

د تاریخ ټولنې د افغانستان تاریخ په سلسله کښې د کتابو او د نورو تاریخي او فرهنګي آثارو په خپرولو سره، سربېره د مملکت د تاریخ په روښانه کولو او د ملي پوهاوي د روح په ټینګولو باندې د دنیا ثقافت ته هم خدمت کوي ځکه چه زموږ جغرافیائي او تاریخي موقف د شرق په څلور لارېزي او د آسیا په زړه کښې داسې دی چه د شرق د دې څنډې په فرهنګي او تاریخي عمومي جریانانو کښې دخل لري او دخیل بو — په بل عبارت هر څومره چه د افغانستان تاریخ او فرهنګ په بېلو بېلو دورو کښې روښانه شي په هماغه اندازه په شرقي او آسیائي تاریخي او فرهنګي عمومي اوضاعو باندې رڼا اچوله کېږي، او فائده ئې د علم دنیا ته رسېږي.

د دې دپاره چه د ملت عامې طبقې د خپل مملکت او د خپلې خاورې له پخوانۍ تاریخ څخه خبرې شي د تاریخ ټولنې تصمیم نیولی دی چه د افغانستان تاریخ سلسله او خپل نور خپاره شوي آثار په پښتو هم چاپ او نشر کړي چه د افادې او استفادې میدان ئې پراخ شي.

دغه دی دغه ګټور کار د پخواني افغانستان د لومړي جلد په خپرولو سره شروع کوي او امید لري چه د پوهې د خاوندانو په ښه هر کلي سره چه د تشویق په لاره کښې ډېر تاثیر لري په دغه سلسله کښې نور آثار هم محترمو لوستونکو ته وړاندې کړي.

د ۱۳۳۴ کال د داو ۱۳ احمد علي «کهزاد»

# دافغانستان د پخوانی تاریخ

## دمندرجهٔ مضمو نو فهرست

[redacted]

[redacted]

## او مړی فصل


| مضمون | مخ |
| --- | --- |
| دتاریخ‌نه پخوادوروته یوه کتنه | ۱ |
| د کـل کوای تیك د وره | ۵ |
| غربی آسیا | ۸ |
| د آریـانا په شا ؤ خوا د سند | |
| په حوزه کښې | ۱۱ |
| بلو چستان | ۱۵ |
| (انو) مروي ته نږ دې | ۱۵ |
| دآریانا د خاو رې غوره والی | ۱۷ |
| په افغانی سیستان کښی کشفیات | ۱۸ |
| اول نمبر و دانی | ۲۲ |
| دو هم نمبر و دانی | ۲۲ |
| خارجی ارتباط او نتیجه | ۲۵ |
| د آریانا په معا ملو کښی‌لاجو رد | |
| اود هغو اغېزه | ۲۹ |


## دو هم فصل


| مضمون | مخ |
| --- | --- |
| آر یانا ـ د باختر هندو ارو پائی | |
| ټولنه ـ ویدی مدنیت | ۳٤ |
| د ژ بو مشا بهت | ٤۰ |
| مسلك اوعقیدې | ٤۱ |
| ټـکـلونه اوافسانی | ٤۱ |
| دریگ‌وید سرود | ٤۲ |
| اوستا | ٤۳ |
| مها بارا‌ته | ٤٤ |
| دآریا د پیدا کېدو او پالنې او | |
| روزنی ځانګو | ٤٤ |
| دآریا د کلمی معنی | ٤۵ |
| آریا ورته | ٤٦ |
| آریانا ویجه | ٤۷ |
| آریائیان په‌باختر کښې | ٤۹ |
| له‌باختر‌نه د هندوکـــش دوا‌ړو | |
| خواؤته دآریائیانوخپرېدل | ٤۹ |
| په ځینو ډېـرو نومونو کـښې | |
| د (آریا) ریښه | ۵۱ |
| هرویو | ۵۱ |
| هراوی تی | ۵۲ |
| آریا کا | ۵۲ |
| آریاسپ | ۵۲ |
| اریستو فیل | ۵۲ |
| ارتا کـانا | ۵۲ |
| اریوس | ۵۳ |
| آریانا | » |
| د آریانا حدود | ۵۵ |
| ویدی سرود | ۵۷ |
| «وید» یا «ودا» | ٦۲ |
| دبلهیکـا ، یا بخدی سرودونـــه | |
| (پخوانی اونامعلوم سرودونه) | ٦۳ |
| د هندوکـش د جنوب سرودونه | |
| (معلوم سرودونه) | ۷۰ |

| مضمون | مخ |
|---|---|
| ریگ وید اودهغه تقسیمات | ۷۲ |
| دریگ ویدادبی اوتاریخی مدرسی | ۷۸ |
| دویدی سرودو وتاریخ | ۷۹ |
| د ویدی سرودونو د پیدا کیدو اوښکاره کیدو ځای | ۸۲ |

## ویدی جغرافیائی معلومات

| | |
|---|---|
| د کوبها سیند (د کابل سیند) | ۸۶ |
| کرومو (د کرمې سیند) | ۸۸ |
| گوماتی (دگومل سیند) | ۸۹ |
| سوتی (دسوات سیند) | » |
| راسا (د کنړ سیند) | ۹۰ |
| «تریشتاما» یا «انی تابها» | ۹۱ |
| سپته سندهو (اوه سیندونه) | ۹۱ |
| کندهارا | ۹۲ |
| دارغنداب حوزه | ۹۲ |
| بلهیکا - بلخ | ۹٤ |
| دمنجوان غر اودموجاوات قبیله | ۹٦ |

## دځینو قبیلو یادول

| | |
|---|---|
| بهاراته | ۹۸ |
| پښگه جانا | ۱۰٤ |

## دلسوملکانو جنگ او

### دبهاراته جبهه

| | |
|---|---|
| اوهغه قبیلې چه پههغه کښې شاملې شوې | ۱۰٦ |
| پکتیان | ۱۰۹ |
| دپکتیانودپاچااو قبیلې اقتدار | ۱۱۹ |
| گندارییان | ۱۲۰ |
| ستاگیدبان | ۱۲۲ |

| مضمون | مخ |
|---|---|
| اپاریتیان | ۱۲۳ |
| دادیکیان : یا تاجیکیان | ۱۲٤ |
| الیناپان (نورستانیان) | ۱۲۵ |
| د «دی وو داسا» جنگونه | ۱۲۷ |
| بریسان - یا (بریخی) | ۱۲۸ |

## اجتماعی ژوندون

| | |
|---|---|
| داکسوس او دهندوکش شمالی حوزه | ۱۳۲ |
| دهندوکش په جنوب کښې | ۱۳۷ |
| د (کولا) کورنۍ | ۱۳۸ |
| گوترا ، اوگوشتی | ۱٤۱ |
| گرامه | ۱٤۲ |
| ویس یاویسه | ۱٤۲ |
| په آریانا کښې دطبقو او کست نشتوالی | ۱٤٤ |
| شاهی حکومت | ۱٤٦ |
| سبها او سمیتی یا دعوامو اواعیانو مجلس | ۱۵۰ |
| واده (عروسی) | ۱۵۲ |
| په ویدی جامعه کښې دښځې مقام | ۱۵٦ |
| لوبې او ورزښت | ۱۵۹ |
| په آسونوسپریدل او آسونه ځغلول | ۱۵۹ |
| دجامونو (طاس) لوبې | ۱۵۹ |
| اتڼ او نڅا (رقص) | ۱٦۰ |
| سندری ویل او ساز و موزیك | ۱٦۱ |
| سامانه | ۱٦۲ |
| جگړه ماری او وسله | ۱٦۳ |
| کالی ، جامی | ۱٦٤ |
| کرهنه او مالداری | ۱٦۵ |
| صنعت | ۱٦۹ |
| خوراك | ۱۷۰ |

مضمون — مخ
عقیدی ۱۷۱
اندرا ۱۷۷
وارونا ۱۷۹
اگنی ۱۸۰
سوما ۱۸۰
سوما(مشروب) ۱۸۳
دسوما دمشروب جوړول ۱۸۸
سوما اود ریشییا نو تخیلات ۱۸۸
«سوما» او «هوما» په ریگ وید
او اوستا کښی ۱۹۱

## ویدی ژبه

ویدی ژبه ۱۹۳
له آریانا نه دهند ؤ فارس
خواته دآریائیانانو مهاجرت
د هند خواته ۲۰۱
بهاراته ورشه ۲۰۲
داسیو ۲۰۳
غربی څانگه یا امادی اوپارسوا ـ ۲۰۶

# دریم فصل

## اوستائی مدنیت

### عمومیات

دمحیط اونژاداقتضاآت ۲۰۹
ایریا ۲۱۸
اوستا او آریائی لومړی ځای
دآریانادخاوری اغیزی
«تاثیرات» ۲۲۰

مضمون — مخ

## زرتشتر سپنتمان

دویدی زمانی له ریشییانو څخه
ترزرتشتر سپنتمان پوری ۲۲۳
زراتشترا، زرتشتر سپتمه یا
زرتشتر سپنتمان ۲۲۶
دزرتشتر ځیلوان اومنسو بین ۲۳۰
په تصوری روایاتو او نکلونو
کښی زرتشتر ۲۳۲
یونانی روایات ۲۳۳

## اوستا

اوستا ۲۳۵
لومړی اوستا یا باختری
اوستا ۲۳۶
نوی اوستا ۲۳۷
داوستا تقسیمات ۲۴۰
گاتونه ۲۴۱
د آریانا په تاریخ کښی
داوستا اهمیت ۲۴۳

## په بخدی کښې د آریانا

## د سلطنتی نظام تشکیل

آریانم هورینویا ( فرشاهی
آریانا) ۲۴۸
له اوستانه د څلورمی هجری
پیړی تر داستانو یونکو شعراوو
پوری ۲۵۱

| مضمون | مخ |
|---|---|
| **پارادا تا** | |
| بلخي پيشداديان | ۲۵۸ |
| يما يا چا | ۲٦۱ |
| ديخني درا تگ اخطارا ودلازمو | |
| ترتيبا تو نيول | ۲٦۳ |
| د «ودا» شهادت | ۲٦٤ |
| ياما ، يما - جم - جمشيد | ۲٦۸ |
| ياما ، اوجام سوما ، ياخام ، جم - | ۲۵۹ |
| د آريا نا لومړی پای تخت | ۲۷۰ |
| **ازهی دها کا ضحاك** | |
| د دغی کلمی واقعی تعبير | ۲۷۷ |
| تری تو نا ( فريدون ) | ۲۷۹ |
| کرساسپه | ۲۸۰ |
| **کاوی** | |
| کوانی = کيانی | ۲۸٤ |
| کاوی کوا تا ـ کی کوات ـ | |
| کيقباد | ۲۸٦ |
| کاوی یوسان ، کاوی يوسا | |
| کی کاؤس | ۲۸۹ |
| کاوی سياورشان ـ کاوه | |
| سياورشنا ، کی سياوش | ۲۹۲ |
| کاوه هوسراوا ـ کی خسرو | ۲۹۲ |
| توزا يا طوس | ۲۹۵ |
| **داسپه کورنی** | |
| داسپه کورنی | ۲۹۷ |

| مضمون | مخ |
|---|---|
| آس او باختر | ۲۹۸ |
| ار وت اسپه ( لهراسپه ) | ۳۰۰ |
| ويست اسپه ( گشتاسپه ) | « « |
| دو يشتا سپه جنگو نه | ۳۰٤ |
| د گشتاسپه پا چا د زر تشتر | |
| دحا می او دداريوش د پلار په | |
| منځ کښی فرق | ۳۰۹ |
| زری ويری | ۳۱۰ |
| دهو گوا کورنی | ۳۱۱ |
| سپنتو داتا | ۳۱۲ |
| آشوريان او آريانا | ۳۱۸ |
| **آوستائی سيمه اومملکت** | |
| آوستائی مملکت | ۳۲٦ |
| آريانا ويجه | ۳۲۹ |
| سغده | ۳۳۱ |
| مورو | « « « |
| بنکولی بخدی | « « « |
| نيسايا | ۳۳۲ |
| هر ای وه | ۳۳۳ |
| ويکره ياوکره ته | « « « |
| اوروا ـ يا ـ اوروه | ۳۳٤ |
| خننتا | « « « |
| هری ويتی | « « « |
| ای تو منت | ۳۳٤ |
| راگا ، يا ـ ره گه | ۳۳۵ |
| کخره | « « « |
| ورنا ـ يا ـ ورنه | « « « |

| مضمون | مخ |
|---|---|
| هپته هندو | ۳۳۵ |
| رانگه، یا، رانگا | ۳۳٦ |
| د آریا ناغرونه | ۳۳٦ |
| هریتی بارز | ۳۳۷ |
| زره دهازا | ۳۳۸ |
| سیامکه | ۳٤۱ |
| وفره یا فت | » » » |
| سیته ورنه | ۳٤۱ |
| سپینتوداتا | ۳٤۲ |
| یوپائی ری سنا | ۳٤۲ |
| کوسرادا | ۳٤۳ |
| پورانا | ۳٤٤ |
| سپی تاگوناگبری | ۳٤٤ |
| ستیرا | ۳٤٥ |
| پورواتاوا | ۳٤٥ |
| سیهدونه | ۳٤٥ |
| هیتومنت | ۳٤۷ |
| خواسپه | ۳٤۷ |
| هواسترا | ۳٤۷ |
| فراداتا | ۳٤۷ |
| هوا ناگو هیتی | ۳٤۸ |
| دپاراداتا کاوی اواسپه د کورنی | |
| د سلطنت او امپراطوری قلمرو | ۳٤۹ |
| او سکامدیا او فارس او دهنو | |
| پادشاهان نه پېژنی | ۳٥۲ |


# اوستائی مذهب

## او آئین


| مضمون | مخ |
|---|---|
| عمومی کتنی (ملاحظات) | ۳٥٥ |
| اخلاقی سویه | ۳٦۳ |
| هومته- هوخته ، هورشته | ۳٦٤ |
| دویدی او اوستائی ارباب انواعو | |
| دخپلو نومونو ترمنځ مقائسه | ۲٦٥ |
| طبیعی عناصر | ٦۷ |
| اور | ۳۳٦۸ |
| اوبه | ۳۷۰ |
| میتهرا | ۳۷٥ |


## اوستائی ارباب انواع


| مضمون | مخ |
|---|---|
| د کوشانی پادشاهانو په | |
| مسکوکاتو باندی | ۳۷۷ |
| دخپلوانو او نیکونو ارواح | ۳۸۰ |


## اجتماعی ژوندون


| مضمون | مخ |
|---|---|
| اجتماعی طبقی | ۳۸۳ |
| دبدن روغتیا اوخائسته والی | ۳۸٦ |
| واده - عروسی | ۳۸۷ |
| دکرهنی اوزراعت پرمخ تگ | ۳۹۰ |
| جگره او دجگړي آلات او ادوات- | ۳۹۱ |
| دژوندزبه | ۳۹۷ |

مضمون — مخ

## څلورم فصل

هخا منشیان ٤٠١
دسامی ، کلدي او عیلام د مدنیت لومړي مرکز ٤٠٢
آشوریان ٤٠٥

### آمادی یا ماد

آمادی یا ماد ٤٠٨
دمادی (ماد) د نوم لومړی یاد ٤١٠
د آشوری لیکنو (کتیبو) له مخي مادیان ٤١١
دماد دسلطنت پیدا کېدل ٤١٤
فرااورتس او دیار سوا د قبیلې محکومول ٤١٧
سیاکزاریس ٤١٨
دسیتیانو یا داسکائیانو ظهور او حمله ٤١٩
استیاګ ٤٢٠

### پارسوا - پارسواش

فارسیان ٤٢٢
هخامنشی او دیارسوا نور قبائل اوتړونه ٤٢٤
دسیروس نه پخوا دهخامنشیانو حالت ٤٢٥
سیروس اودده اولاده - تاریخی زمانه ٤٢٦

مضمون — مخ

دانشان پادسوز یانو پادشوش سلطنت ٤٢٧
کمبوجیه ٤٢٩
داریوش اودده اولاده ٤٣٠
دده نوره پاتی اولاده ٤٣٠

### آریانا او هخامنشیان

آریانا او هخا منشیان ٤٣٢

## پنځم فصل

## لومړی برخه

### داسکندر لښکر کشی له مقدونیې نه ترهایرکانیې پوري

مقدونی اسکندر ٤٣٦
دهخامنشی دولت ٤٣٧
د اسکندر لښکر کشی ٤٣٨
دد ریم د اریوش مرګ ٤٤٠

### سکندر په آریانا کښي

دسکندر حرکت له هایرکانیې څخه دپارت او هرای ؤ، خواته ٤٤١
داسکندر په ضد لومړی ملی اقدام ٤٤٣
دسیستان خواته دسکندر اپنې دېدل ٤٤٦

| مضمون | مخ |
|---|---|
| سکندر په آریاسپ کښې | ٤٤٨ |
| داسکندر په ضد د ساتی بارزانس دوهم اقدام | ٤٥٠ |
| اسکندر په آراکهوزیا کښې | ٤٥٠ |
| دساتی بارزانس جګړه | ٤٥٢ |
| داسکندر پېژدېدل دپارو پامیزادی اورته | ٤٥٢ |
| د قفقاز اسکندریه | ٤٥٥ |
| دقفقاز له غرونو څخه مقصود څه دی؟ | ٤٥٨ |
| له هندوکش څخه تېرېدل | ٤٦١ |
| بسوس | ٤٦٤ |
| اسکندر په باختریانه کښې | ٤٦٦ |
| باختر | ٤٦٧ |
| اورنوس | ٤٦٨ |
| له باکتریانی څخه د سوګدیانی اورته او له اموددریاب څخه تېرېدل | ٤٧٠ |
| سوګدیانه او دهغې مهم ځایونه | ٤٧٢ |
| بسوس د اسکندر په لاس کښې | ٤٧٢ |
| دجاګسار تس په غاړو اسکندر دسغدیانی پېښې: دسپی تامینس ظهور (دسکندر سره خپل بخت مرسته وکړه) | ٤٧٤ |
| آخرنی سکندریه | ٤٧٦ |
| دسپی تامینس بری او فتح | ٤٧٧ |
| د سغدیانی د ځینو مهمو ښارونو: مارا کنداـ یادونه | ٤٧٩ |
| داوکزیانی اسکندریه | » » » |
| داسچاتی اسکندریه | » » » |
| نوتاکا | » » » |
| باختریانی ته بیرته راګرزېدل | » » » |
| په سوګدیانه کښې شورښت، دسپی تامینس عاقبت | ٤٨٠ |
| اسکندر اورکسانه | ٤٨٤ |
| د کلیتوس قتل | ٤٨٦ |
| دهند دسفر تیاری | ٤٨٧ |
| له هندوکش څخه راتېرېدل | ٤٨٩ |
| آمبهی دتکسیلا پاچا | ٤٨٩ |
| اسکندر په نیکائیاـ پرد یکاس او هفستیون کښې | ٤٩٠ |
| داسکندر حرکت | ٤٩١ |
| له اساکی نوئی سره جنګ | ٤٩٤ |
| د بازیرا ښخړه | ٤٩٧ |
| داورنوس فتح کېدل | ٤٩٨ |


## اسکندر په هند کښې


| مضمون | مخ |
|---|---|
| له اورنوس نه راګرځېدل | ٥٠٤ |
| د نیسا ښار | ٥٠٤ |
| له اندوس نه تیرېدل، تکسیلا ته رسېدل | ٥٠٥ |
| اسکندر او پوروس | ٥٠٧ |

مضمون — مخ

## داسکندر بیرته گرځیدل

د بیرته گرځیدو خبر تیاـ داسکندر بیرته را گرځیدل یا بیرته را تګ ۵۰۷
د بابل په لورخوځیدل او د اسکندر مرګ ۵۰۹
د اسکندر له مرګه نه وروسته دامپراطورۍ حالات ۵۱۰

# دوهمه برخه

## دموریا پاچائی

دهندوکش په جنوب کښې د موریا ددولت موقتی نفوذ او په افغانستان کښې د بودائی دین خپریدل ۵۱۲

مضمون — مخ

یونانی سلوکوس نیکاتور سره د «چندرا ګوپتا» مقابله ۵۱۸
بندو سارا ۵۲۰
آشوکا ۵۲۲
د تیږو فرمانونه ۵۲۴
د جنوب شرقی آریانا له او سیدونکو سره د آشوکا دروېي څرنګوالی او سیاسی وضعیت ۵۲۵
بودائی دیانت او آریانا ۵۲۷
بودائی دیانت ۵۲۹
مذهبی محفل او د مبلغینو لیږل ۵۳۰
د کابل له دري څخه د موریا د وروستنیو عناصرو سقوط ۵۳۳
دلومړی جلد (ټوك) پای ۵۳۵

# پښتوانی افغانستان

## لومړی فصل

### د تاریخ نه پخوا دوروته یوه کتنه

انسان تل په دې فکر کښې ؤ او دی چه څپل معلومات زیات کړی، او هر کله چه په یو کار کښې یو حد ته رسېدلی دی نو په دې فکر کښې لوېدلی دی چه یو گام وړاندې لاړ شي، او نوی نوی معلومات حاصل کړی، دغه هیلې او آرزو گانې په عمومی ډول دوخت او ځای په غوښتنه او اغېزه څه ناڅه قوی کیږی او کمزوری کیږی او په هر ځای کښې ئی پر مخ تگ یو راز نه وی. مگر په دې دوو وروستیو پیړیو کښې دې مفکورې په نوې زمانه کښې هر ځای او خصوصاً په غرب کښې ډېر قوت او زور پیدا کړی دی. او ډېر کوچنی موضوعات چه پخوا به چا ورته توجه نکوله، نن هماغه موضوعات دځلکو په نظر کښې اهمیت لری او غور پکښې کوی بلکه دومره اهمیت ئې موندلی دی چه ځانته علم یا دیو جلا علم څانگه گرځیدلی ده .

تاریخ تل دبشر سره یو ځای ؤ او دی او دده دژوندانه دلارې مل دی . او د کومې نوی منبع له مخه چه ځینی معلومات ورځنی لاس ته راځی هم کوم تازه او نوی شی نه دی بلکه هغه دبشر دپوهې دډېرو پخوانیو مظاهرو څخه گڼل کیږی، ځکه که انسان هر وخت او زمانی ته رجوع و کړی نو هغه ته به دا خبره ښکاره شی چه انسان په یو خاص رنگ او تعبیر سره په دې لاره کښې کار کړی دی، که دقصې په ډول وی او که دشفاهی داستانو او تکلو نو په رنگ، او که دغرو نو په څمڅوا او تیږو کښې دپېښو دنقش په ډول

او کهٔ د تصویری او نیم تصویری او صوتی او د بل رسم الخط د بیلو بیلو اقسامو پهٔ صورت وی . نو له دې کبله د تاریخ لهٔ حیثه د تاریخ د پخوانی والی او قدامت پهٔ مفکوره کښې هیڅ شك نشته . مگر څرنگه چه د بشری پوهې نورو څانگو تر دې اندازی پورې پراختیا موندلې ده چه پهٔ ځینو موضوعاتو کښې ئې بیخی نوې څانگی پیدا کړی دی نو تاریخ هم تغیر موندلی او پراختیائی پیدا کړی او یوه سلسله نوی علوم : انتروپولوژی ( دانسان طبیعی تاریخ ) اتنولوژی ( د بشر د نژادو د بدنی خصوصیاتو بیان ) خلك پیژندل ، د پخوانیو آثارو ( عتیقه ) پیژندل ، فولکلور او داسې نور نور علوم میدان تهٔ راوتلی دی ، او په خپله هر یوئی نن ورځ دومره پراختیا پیدا کړې ده چه جلا جلا څانگی او ښاخونه لري . مگر دغه ټول پهٔ حقیقت کښې د یو مقصد د پاره چه تاریخ دی کار کوی .

پلټونکی انسان تل پهٔ دې فکر کښې ؤ او دی چهٔ د گمان او خیال پهٔ قوت او د روغ عقل او فکر پهٔ رڼا کښې د تیرو زمانو او پیړیو تورې تیارې پردې لیری کړی او د زرگونو کلونو پخوانی واقعات و گوری ، او د دغی کتنې پهٔ مرسته څو قدمه وړاندی لاړ شی او د خپل ژوندون او شاؤ خوا نورو کیفیتونو مجهول اسرار ځانته څرگند کړی . له هغو واقعاتو څخه چهٔ اوس فی الحال پیښیږی تر هغو پوری چهٔ پهٔ ډیرو پخوانیو زمانو کښې تیر شوی او لا تر او سه پوری د بشر فکر د هغو پهٔ کشفو لو بریالی شوی ندی دغه ټول بی له استثنا د تاریخ جزء دی او یوه بیلوونکی کرښه دغه اوږده دوره پهٔ دوو برخو جلا کوی او هغهٔ رسم الخط او لیکنهٔ ده .

مونږ وویل چهٔ انسان تل پهٔ دې فکر کښې ؤ او دی چهٔ د خپل او د خپل شاؤ خوا ژوندون پټ واقعات راو سپړی او پهٔ هغو باندی پوه شی . دغه لوی او مهم کار یعنی د تیرو او پخوانیو زمانو پهٔ پټو واقعاتو باندی پوهیدل او پهٔ هغو باندې

رڼاڅول یوازې د ګمان او خیال په مرسته نه کېږي، کوم څراغ چه په دې لاره په مثبت ډول رڼا اچولی شي هغه رسم الخط او لیکنه ده چه پر خاورینو ښوا و او موټو، د ونه په غرو نو کښې، او پر هډو کو، تیږو، خاورینو لوښو، او د ونو پر پوټکو او د څارویو پر پوستکو او پر ډول ډول تو کړانو او کاغذ و نو باندې د تېرو او پخوانیو پېښو او واقعاتو څرګندوالی ساتلی او تر مونږ پورې ئې رارسولی دی .

نو هغو دورو ته چه د رسم الخط د پیدا کېدو نه پخواتیرې شوې دي په عمومي ډول د (قبل التاریخ زمانه) ویل کېږي، او هغه زماني او پېړۍ چه د رسم الخط د پیدا کېدو د وخت نه را په دې خوا دي (تاریخي عصر) بلل کېږي . او له دې جلاوالي څخه اساسي مقصد یوازې دا راښانول او د موضوع روښانول دي ، لکه چه هر څومره خپلو دورو ته نژدې کېږو له بېلو بېلو طبقه بندیو نه کار اخلو .

باید دا خبره په نظر کښې و نیوله شي چه هر کله چه رسم الخط په ټوله دنیا کښې یو ځل او په یو وخت کښې نه دی پیدا شوی، نو د دنیا تاریخي او د قبل التاریخ دوره هم یو شریك حد نه لري، او یو واحد خط په ټوله دنیا کښې د غه دوه برخې سره نشي بېلولی، بلکه هره برخه حتی هر مملکت او هر قوم ځانته جلا جلا حدودلري چه د ټا کلي تاریخ سره تصادف کوي . په بل عبارت په حقیقت کښې مونږ دوه ډوله تاریخ او دوه ډوله قبل التاریخ لرو :

یو د هر مملکت، هر قوم او هرې برخې خصوصي تاریخ او قبل التاریخ دی او بل د دنیا عمومي تاریخ او قبل التاریخ دی چه لومړی صورت د یو قوم او د یو مملکت د خلکو د ژوندانه په مرحلو پورې اړه لري، او دوهم صورت ئې د بشر د پېرې پخوانۍ ټولنې د ژوندانه معیار د مدنیت په مراتبو کښې خاص بېیا د رسم الخط په پیدا کښو لو کښې استناد نیسي .

قبل التاریخ د بشر ژوندون په مراتبو کښې دیو عصر څخه عبارت ندی، بلکه د فکري او مادي قواؤ د پراختیا مرحله ده، او بشری تولنو په بیلو بیلو ځایو او جلا جلا زمانو او عصرونو کښې دغه مرحله وهلې ده، او په دې زمینه کښې زمانه فرعي رول لوبوی. زیاتره باید د بشر د ژوندانه څرنګوالی او تحول په نظر کښې ونیول شي. (۱) داخبره هم باید په نظر کښې ولرو چه یوازې د رسم الخط وجود هم زمونږ مطالب حاصلولی نشي بلکه دغه په لوستلو هم زمونږ قدرت شرط دی، ځکه چه ډیرو قومونو رسم الخط اولیکنه درلوده، او مونږ لوستلې نشوه او استفاده موورځنې کولی نه شوه، نو په دی صورت کښې د رسم الخط شته والی او نشتوالی فرق نکوی، لکه د ( اتروسکیان ) دایطالیا پخوانی اوسېدونکی او ( هیتیتیان ) چه په کوچنۍ اسیا کښې ئې ژوند کاوه سره ددې چه رسم الخط ئې درلود په قبل التاریخی مرحلو کښې شمېرل شوی وو، او کرار کرار دهغوی د رسم الخط او لیکنو ( کتیبو ) په لوستلو سره تاریخي دورې ته راغلل.

هر کله چه تصویری او صورتی رسم الخط په مصر او بین النهرین کښې د ( ۳۵۰۰ ـ او ۳۰۰۰ ق م ) په شاوخوا کښې پیدا شوی دی د شرق د تاریخي او قبل التاریخ دورو فاصل خد د ری نیم زره ق م کلونه تا کل شوی دی،

د تاریخ نه پخوا وختو ( قبل التاریخ ) پلټنې او کروېږنې د تولونه لومړی په فرانسه او غربی اروپا کښې او وروسته بیا د نیل په ناوه او بین النهرین کښې زیاتی او ډیری شوې او کرار کرار دغه کار لبز و ډیر په فارس، هند، چین جاپان د شرق الهند په جزیرو، استرالیا او امریکا کښې عمومیت پیدا کړ او تر او سه پوری په زره پوری صورت په تولو د نیا کښې دغه کار عملي شوی ندی، او سره ددې چه ددغو پلټنو امن په ځینو ځایو کښې لویه شوې ده، مګر

---

(۱) د شرق قبل التاریخ د موزګان تالیف دی و کتل شي.

په‌عمومي ډول ئې‌وسعت ندی پیدا کړی. دغه کار زمونږ په مملکت کښې د۱۹۳٦ کال نه‌راپه‌دې خواشروع شوی‌دی چه‌دیوڅوضروری مقدمو له بیانولو نه وروسته به‌په‌دغه‌فصل کښې ددې‌موضوع په‌باب دخپلو معلوماتو له مخې بحث و کړو .

په قبل‌التاریخ دورو کښې د بشر ژوندون تقریباً په‌ټولو ځایو کښې یوډول او په‌یو شکل سره‌ؤ اودخاورې اونژاد په‌اختلاف سره څه‌ډیر فرق پکښې نه ؤ .دلمرخاته اولمرپریواته خواؤخلکو، اوماليزی اودمرکزی افریقا خلکو اودآریانا، هند، چین، بین‌النهرین، مصر، اودفارس او سیدونکو تقریباً ټولو یوډول تحول کړی‌دی، اوهغه موادچه دوی د خپلو لومړنیو اوپخوانیو ادواتو اوآلاتو دجوړولودپاره په کار کړی دی په‌ټولو ځایو کښې دچقماق طبیعي ډبره، توږل شوې اوصیقل شوې‌ډبره اوهډو کې د ی ددوی ادواتو او آلاتو دجوړښت اصول اوشکل لکه چړې، چوړ کی، تبر او نور دسو ری کولو، وهلو، ټکولو اوپریکولو مخصوص آلات یوبل ته سره ورته‌دی اودمقایسې وړدی. له‌دی کبله ددغه ډول پلټنو اوتجسساتو تدقیق کونکی‌او پوهان په‌بیلاو بیلو ځایو کښې دډبرینو آلاتو اوادواتو له څیړنو او کتنو نه‌وروسته دهرې ډبرینې دورې دپاره په‌جلاجلا اشکالو، ممیز! تو او نومونو قائل شوی دی، اودژوندانه دبیلاو بیلو او مختلفو اړ خونو او جزئیاتو د کتنو نه‌وروسته دهرې دورې دپاره‌ئې‌معین چوکاټونه ټاکلي دی چه‌په حقیقت کښې مقصد د کار آسانتیا اودبشر داستعداد د تحولاتو اودزمانی دتیریدلو طبقه بندی ده‌چه‌درسم‌الخط د نشتوالی په صورت کښې کله دهغه په‌ځای له ډبرینو ادواتو څخه کار اخلی او کله د کودړو داوښو څخه او یو وخت هم له ډبرینوآلاتو نه .

مونږ بیله‌دې‌چه‌په‌جزئیاتو کښې‌داخل‌شودموضوع دتسلسل‌دپاره‌دهغو نومونه

اخلو : دډېرو لومړنۍ دوره ــ د تېږو پخوانۍ دوره، دډېرو منځنۍ دوره، دډېر ونوې دوره. (١) چه ځینو په ساده ډول حجري دوره د ډېرو په (پخوانۍ او نوې) دوو مرحلو تقسیم کړې ده، او د لومړنۍ دورې دپاره د الف ب په دوو دورو قائلېږي. مګر اصولي ویش او تقسیم ئې هماغه لومړنی ویش دی چه دغه موضوع ئې په دریو پخوانۍ ـ منځنۍ او نوې دوره تقسیم کړې ده (٢) چه په لومړۍ دوره کښې د ډبرینو ادواتو زیاد تره طبیعي شکل درلود. او په دوهمه دوره کښې ئې زیاتره لاس خوړلی او تغیر پکښې راغلی دی او په دریمه دوره کښې صیقل شوی دی. هر کله چه ددې دورې په ورو ستنیو مرحلو کښې دصیقلي ډبرو تر څنګ خاورین او فلزي لوښي هم پیدا شوي دي، او دغه دوره د (کلکولي تیک) یا (انه اولي تیک) په جلا نوم یادېږي. (٣) زمونږ په مملکت افغانستان کښې لا تراوسه پورې ددغو دورو په باب تحقیقات ندي شوي، نو له دې کبله مونږ نیغ په نیغه د (کلکولي تیک) یا (انه اولي تیک) دورې ته راځو او په بحث ئې پیل کوو :

د کل کولي تیك دوره .

دډبرو آخرنۍ نوې دوره یا د صیقلي شوو ډبرو دوره په شرق کښې عموماً په دوو برخو وېشل کېږي. یوه ډبره او زده دوره ده چه د فلزاتو د کشفېدو نه پخوا زمانې پکښې راځي، او بله هغه دوره ده چه صیقلي شوې ډبرې او خاورین او فلزي لوښي یو ځای پکښې استعمال شوي دي او د پخوانیو برخو څخه د تمیز او جدا کېدو دپاره په دغو پاسنیو نومونو یادېږي :ــ

دشرق د ډبرې په نوې دوره کښې د خاورینو لوښو پیدا کېدل د (٢٠) زرو کلونو قدم په شاؤخوا کښې شروع شوي دي لکه چه په مصر کښې ئې ځینې

(١) ددغو نومونو لاتیني نوم او رسم الخط په ترتیب سره په دغه ډول دي : اول Paleolitnique دوهم Archeolithique دریم Mesolithique څلورم Neolithique

(٢) بشریت قبل التاریخ د (ژاك مور ګان) تالیف (٣) Chalcolithic Eneolithique

آثار پیداشوي دي مګر د شرق نوري برخی په دې نژدې زمانو او مختلفو وختو کښې دغې دورې ته داخلې شوي دي او مظاهر ئې د فلزو له ګټو څخه ډېر لږ لیدل شوي دي. (۱) لکه چه ثابته شوې ده مس په شرقي خاورو کښې لومړی ځل دا کسوس (مروې ته نژدې ځایونو) په حوزه کښې او د قفقاز په شاؤخوا کښې د (۶۰۰۰ ق م) په حدودو کښې پیداشوي دي. او له دغو ځایو څخه د (۵۵۰۰ ق م) په شاوخوا که په (عیلام) کښې او د (۵۰۰۰ ق م) په شاوخوا کښې په مصر کښې او د (۴۰۰۰ ق م) په حدودو کښې د فارس د خلیج او خزر د سواحلو تر منځ ځمکو کښې پیداشوي دي. او ځینې مؤرخین په دې عقیده دي چه فلزات د سومر یانو سره دا کسوس له حوزې نه غربي ځمکو ته تللي دي لنډه دا چه د کلکولي تیك یادانه او لي تیك دوره په مصر کښې په دوو مرحلو ویشل کیږي چه لومړی مرحله ئې له ۷۵۰۰ نه تر ۵۰۰۰ ق م پورې، او دوهمه ئې له ۵۰۰۰ ق م نه تر ۳۵۰۰ پورې ده چه د رسم الخط د پیدا کېدو او د تاریخی دورې شروع ده. عمومي عقیده داده چه هغه د ښکار ژوندون چه د ځنګلو ځایو د غرونو په لمنو کښې ئې دوام درلود په مصر کښې د ۷۵۰۰ ق م په شاؤخوا کښې پای ته رسېدلی او خلك په دغه وخت کښې ځنګلو او د سیندونو غاړو ته راښکته شوي دي. او د ځمکو او کرهڼې سره ئې ډېره علاقه او رابطه پیدا کړې ده له دې کبله دا ستو ګنی د ځای نښې او آثار او قبرونه له هغه خطه نه پاس کشف شوي دي چه د نیل د سیند طغیان ورته رسېدلی نه دی. او داسې خاورینو او ښې ښکاره او کشف شوي دي چه په آزاد اور کښې پاخه شوي دي. په دوهمه مرحله کښې عمراني آثار او نورشیان هم پیداشوي دي چه بیان ته ئې څه ضرورت نه لرو.

د بین النهرین او عیلام ځمکې د جوړښت (ساختمان) په لحاظ د نیل د دلتا سره ډېر شباهت لري. د بین النهرین په تلونو او د سوزیان په غونډیو کښې د استو ګنې ځایونه او آباداو ودان نقاط لیدل شوي دي. او د ځینو محلي ممیزاتو له کبله د دغې دورې خصوصیات په دې ځای کښې د اومړی سوز او دوهم سوز

په نامه ویشل شوی دی. همدا رنګه ددې دورې مظاهر چه هغوته د کلکو لی تیك مدنیت ویل کیږی په لومړی، دوهم، دریم، څلورم او پنځم زرګم کلونو کښې د حفریاتو او پلټنې د پرمخ تګ له مخې د فارس په مختلفو ځایو، په پخوانی آریانا، دا کسوس په حوزه، د هیرمند په حوزه، او په بلوچستان کښې د نال او جالهوان، او د اندوس (سند) په حوزه کښې هم پیدا شوی او ثابته شوې ده چه د غه مدنیت د اندوس له حوزې نه د نیل تر ناوې پورې یو پراخ میدان نیولی ؤ. لومړی د هغه ممیزات په عمومی ډول او بیاد آریانا له خاورې نه د باندې د هغه د وجود په بیان او شرح او وروسته بیاد هغو پلټنو او تجسساتو په بیانولو پیل کوو چه د ۱۹۳۶ کال نه راپه دې خوا د نه په مملکت کښې شوی دی.

غربی آسیا:

د شلمې پیړی ترا وا ئلو پورې د تاریخ پوهانو او لرغول پېژندونکو په هغو سیلو او ذریعو سره چه په لاس کښې ئې درلودل د نیل، دجلی، فرات په ناوو او د غربی آسیا په نورو مدنی ځایو کښې ئې مدنیتونه بیان کړی او نهائی ورباندې اچولې د چه تول ئې د تاریخی دورې جزء دی، او ثابته شوه چه د غربی آسیا د تاریخی زمانې ابتدا د (۳۵۰۰ ق م) کال په شاوخوا کښې تاکل کیږی پس له دې د هغو نوو اقداماتو په اثر چه په ترتیب سره په بین النهرین او پارس کښې او د ۱۹۲۲ کال څخه راپه دې خوا د سند په ناوه او بلوچستان کښې او په ۱۹۳۳ کال دا کسوس په شمال (مروې ته نژدې) کښې او په ۱۹۳۶ کال په افغانستان (د سیستان به ناد علی) کښې شروع شوی دی د هغو لویو سیندو او رودخانو له حوزو څخه چه یاد شول داسې شواهد په لاس راغلی دی چه په عمومیاتو کښې ډیر مشترك ځایونه لری د غرب لوی پوهان د اوږدو او ډیرو مطالعو او مقایسو له مخې په دې قائل شوی دی چه د ۲—۵ زروقم کلونو په دوره کښې د نیل له ناوې او د سپین بحر له سواحلو څخه نیولې د سند او ګنګا تر حوزو پورې یو لوی مدنیت خپور ؤ چه په عمومی اساس پخپل منځ کښې سره مشترك ؤ او په محلی خصوصیاتو کښې

مزې برخې طبعاً دخپل موقعیت په لحاظ ځینې جلا ممیزات درلودل. هر کله چه په دې دوره کښې ډېرو ، کوډېو ، او فلزي آثار څنګ په څنګ پیدا کیږي ، نو دا دوره د کلکولي تیك په مدنیت او دوره یادیږي .

په بین النهرین کښې د ( اور Ur ) د سلطنتي کورنۍ نه پخوا چه دتاریخي عصر داوائلو سره سمې خوري دغه لوي مدنیت دهغو ځایو په لحاظ چه آثار او شواهد یکښې په لاس راغلي دي او بیا هم دهغو دجلا طبقاتو له مخې دهماغو ځایو په نومونو په دریو دورو ویشل شوي دي چه :

د ( عبید دوره ) د ( اورك دوره ) او د ( جمدت نصر دوره ) په نومونو یادیږي ، اوهره طبیعي دوره دخاورینو لوښو د تیږو او فلزي آثارو په جوړښت ، رنګ او شکل کښې ځینې ممیزات لري . د عیلام په تلونو او دسوزیان په غونډیو کښې چه بیا هم دطبیعي جغرافیې په لحاظ دبین النهرین په خاورې پورې اړه لري دسوز دلومړۍ او دوهمې طبقې په تل کلو سره همدغه پلټنې او تجسسات شوي دي؛ دفارس په خاوره کښې همدغه پوښتنې او پلټنې شوي دي، او ځینو پوهانو لکه مورګان، پزارد، هرزفلد، ګریشمن سمیت د موسیان په غونډیو ، برسه پولیس اودبو شهر په بندر او دسیالك او حصاروجیان په غونډۍ او نورو ځایو کښې حفریات کړي دي ، اودهغه ارتباط له کبله چه زمونږ را تلونکي مطالعات ئې غواړي دځینو برخو په بیانولو پیل کوو ، موسیو ګریشمن په افغانستان کښې دفرانسې دیحفریاتو دهیئت مدیر په هغو کشفیاتو سره چه پخپله ئې کاشان ته نږدې دسیالك او جیان په غونډیو او نورو ځایو کښې کړي دي په دغو ځایو کښې ئې تر لومړۍ زروق م کلونو پورې چه په دغو ځایو کښې دآریائیانو دپیدا کېدو تاریخ دی ددغې دورې مختلف مراتب کشف کړي دي له هغو کشفیاتو نه چه داوسنۍ ایران په خاوره کښې شوي دي داسې معلومیږي چه چپاویان

د ۳۰۰۰ ق م په شاوخوا کښې دبین النهرین له اطرافو جنوب غرب ته چه
دسامی مدنیت مرکز دی ددغه مملکت تر مرکزی برخو پوری را غلی
دی او دنوی مدنیت بنسټ او اساس ئی ایښی‌دی چه هغه ته (پروتو عیلامی)
یاد سوزیان مدنیت وائی. په‌دغه عصر اوزمانه کښې تصویزونه د خاورینو
لوښو له مخی کم شوی او د لوښو شکلونو تغیر کړی دی او ډیرې زیاتی
گانی او فلزی‌هنداريٍ‌اودلاجوردو گانی دمړو له‌قبرونو څخه‌چه‌داستوگنی
په‌خونو کښې به‌ئی‌ښخولې پیدا شوی‌دی، عیلامیانو دفارس په غربی برخو
کښې دغه مدنیت رواج کړ او ددوی مال گڼل کیږی دهغې نتیجې له‌مخی
چه د کیا شان دحفریاتو څخه‌په‌لاس راغلې‌ده د ۳۰۰۰ او ۲۰۰۰ ق‌م کلونو
ترمنځ په‌دغو برخو کښې کوم تازه‌شی نه‌دی پیدا شوی .

د ۱۲۰۰ ق‌م په‌شاو خوا کښې د کاشان په‌اطرافو کښې دمړو د ښخولو
طرز تغیر پیدا کړی دی نخچی ( نقشی ) لوښی نشته ، او تورو لوښو په
نوو شکلونو سره دهغو ځای نیولی دی . دبرنجو اومفرغو آلات او ادوات
لیدل کیږی ، دسرو زرو گانی ډیری دی . د ۱۱۰۰ ق م په آخر کښې
اوسپنه‌هم پیدا شوی ده. دموسیو گریشمن دعقیدی له‌مخی په فارس کښې
د کاشان دژوندانه وروستی مرحله دآریائی‌ژوندون شروع گڼل کیږی
او د ۱۰۰۰ ق م کلونو په شاو خوا کښې لومړی ځل داثوری پاچایانو
په سالنامو کښې خاص آریائی نومونه پیدا کیږی تردې چه په ( ۸ ) او
(۹) ق م پیړی کښې دپارسوا ( پارس) او آمادی ( ماد ) آریائی قبیلې
هره یوه بخپل رون سره داثوری پاد شاهانو په لیکنو ( کتیبو ) کښې
یادیږی ، په دغه وخت کښې کلی لوی شوی دی اویوتینگ او مستحکم
ښار ورځنی جوړ شوی دی ، په ځینو غونډیو باندی ئی خښتې فرش کړی
دی چه د وداڼیو جوړولو دپاره ئی میدان پراخ شی ، نو دغو نډیو په سر

باندې ئې ماڼۍ او ودانۍ جوړې کړې دي او ګرد چاپېره ئې ورځنې دېوالونه تاو کړي دي . دښارونو او کلاګانو له سنګرو او مرچو څخه څرګندېږي چه نوي را غلو خلکو يعني ( آريائيانو ) شهزادګان ، رئيسان ، او پادشاهان او دنجباوو ټولګي در لودل . د اسونو کېږي ، او دسپرلۍ او سوار کارۍ توري ښې او اذوات لکه سر نيزه ، فلزي سرتير ، تورې او نورشيان هم کشف او پيدا شوي دي . او دغه ټول په فارس کښې دلوط ددښتې په غربي ځمکو کښې د سوار کار قوم په پيدا کېدو او ظهور دلالت کوي چه دآريائيانو نه عبارت دي چه دشرق له خوا نه دباختر او دآريانا دنورو ځايونه دغې خواته تللي دي او ساميانو دغه ځای دوی ته پرې اېښې اودغرب خواته لېږديدلي دي اودغه لومړی ځل دی چه دمادي شواهدو له مخې د ۱۰۰۰ ق م په شاؤ خوا کښې په فارس اومديا کښې دساميانو په خاوره کښې دآريائيانو دپيدا کيدو ښې اوعلامې څرګندې شوي دي . اودباختر نه دشرق اوغرب خواته د آريائيانو دتګ تفصيل به په راتلونکو فصلونو کښې وګورئ. په دغه ځای کښې دقبل التاريخ د کشفيانو له مخې په دې باره کښې پوره رڼائي واچوله شوه .

**دآريانا پهشاوخوا ـ دسند پهحوزه کښې:** پخوا موو ويل چه د۱۹۲۲ نه را پی دې خوا دسند په حوزه کښې د کلکولي تيك دمدنيت دڅرګندولو دپاره دقبل التاريخ پلټنې هم شروع شوي دي . دغه کشفيات د انګليسي (سرجان مارشل) له خوا په هغو ځايو کښې چه (موهنجوديرو) او( هرپه ) نوميږي او په نورو ډيرو ځايو کښې شوي دي چه دغه ټول ځايونه دا ندوس دسيند ښې غاړو ته پراته دي. ددغو کشفياتو نتيجو د تاريخ دعلماوو او پوهانو په افکارو او نظرياتو کښې لوی انقلاب پيدا کړ . انګليسي ( سرجان مارشال ) ددغه مدنيت مظاهر دسند د ناوي هغو پوميانو ته منسوبوي

چه د ( دراویدی ) په نامه ئې بولي او عقیده لري چه دغه مدنیت په هغو خلکو پوري اړه لري چه دآریائیانو دپیدا کېدو او ظهور نه پخوا ئې دسند په حوزه کښې ژوندون کاوه . که څه هم دغه نظریه دهغې عقیدې نه مخالفه ده چه دهندو پېژندونکو او بومي علماؤ درلوده ځکه چه دوی آریائیان دپنجاب او آریانا اصلي اوسېدونکي بولي ، مګر په دې ځای کښې دغې موضوع ته څه ضرورت نه لرو ، خاص بیا چه داروپا په علمي مرکزو کښې دهندي دلماوو نظریه هم وته منل شوه نو لدې کبله مونږ دسند په حوزه کښې د کلکولي تیك د دورې دمدنیت دمظاهرو اووجود په بیانولو پیل کوو چه زمونږ اساسي مقصد دی .

د (موهنجودیرو ) او (هړپه) کشفیاتو دآریانا دشرق اودسند دحوزې په لرغوني تاریخ کښې ناڅاپه یوه نوې پاڼه بیرته کړه ، او معلومه شوه چه دسنداوپنجاب حوزه دآریائیانو دظهور اودویدی زمانې نه په زرګونو کلونو پخوا دداسې روښانه اوځلاند تمدن ځانګړې وه چه محلي خواص ئې لرل ، او حتی په ځینو خواو اوبرخو کښې ئې دخپلو معاصرو مدنیتونو څخه هم چه په بین النهرین او مصر کښې موجود وو فوقیت درلود .

د (موهنجو دیرو) حفریاتو او کیندلو دا خبره ثابته کړه چه دا ندوس دحوزې اوسېدونکي په درې څلورو زروق م کلونو کښې یعنې دنن ورځې نه پنځه شپږ زره کاله پخوا ده‌یر لوړ اوممتاز ثقافت خاوندان وو چه دهرې خوا نه دعیلام اوسوزیان دزدانې دغربي اسیا دمملکتو دمدنیتو سره ئې برابري کوله ، اود کلکولي تیك ددورې دمدنیت مظاهر دآریانا دشرقي سرحداتو په شاؤ خوا کښې په زیاته اندازه خپاره شوي وو . که چیرې مونږ په جزئیاتو کښې ډېر غور وکړو اوښه ځیر شونوو به ګورو چه دسند دناوی اوسېدونکو په دې دوره کښې ډېر ښه منظم ژوندون درلود چه ښه منظم

او مرتب ښارونه، جادې، سړکونه، حمامونه او نور شيان ئې لرل، او کرهنې
پکښې ډېره ترقي کړې وه، غنم او جودر به ئې کرل، دخرما ووني به ئې
کښېنودلې، او تجارت ئې په زور کښې ؤ، او هرې خواته به ئې تګ او راتګ
کاوه. هغوي ډېر ښاروي او حيوانات لکه کچرې او مايه او ښانچه تراوسه
پورې په بخدي او ښانو مشهوردي، ميښې، سنډا ګان، لنډ ښکري غوايان،
پسونه، بدځناور، سپي، پيلان او نور اهلي او تربيه کړي وو. هغوي دخپلو
مالونو او اسبابونو دوړلو راوړلو دپاره ګاډې او کراچۍ درلودلې چه
غوايانو به کش کولې. په فلزي کارونو کښې ډېر ماهر او قابل وو. لکه
چه ددوی کانې او اسبابونه کشف شوي دي چه دسرو او سپينو زرو او مسو نه
جوړ شوي وو دوی سيکه (سرب) او قلعي هم پيژندل، ددوی دجنګ او ښکار
وسلې غشي، ليندې، نيزې، او کټارې ګرزونه وو. دوی به واره تبرونه، لرونه
(داس ها) ارې څولې (اسکنه) چړې لمسو او کوټو ښکارونه جوړولې
او چاکوګان او چوڼکې او نور غوڅوونکي او پريکوونکي شيان
او آلات به ئې له دغو فلزاتو يا سختو او کلکو تيږو نه جوړول، او نکونه بغرې
او ميچنې ئې هم پيژندلې او جوړولې به ئې دوی به دخپل کور دپاره
خاورين لوښي استعمالول چه ديو مخصوص څرخ په ذريعه به ئې جوړول چه
په ښو باندې به ئې چورلاوه. ځينې وختونه به ئې لوښوته رنګ هم
ورکاوه دښځو خلکو ګاڼې به دقيمتي فلزاتو او په سرو زرو جړاو شوو
او طلا کاري شوو مسو (مس مذهب) او عاجو او نورو تيږو څخه جوړيدلې.
او عاجزو خلکو به عموماً صدف او کاشي کاري شوي لوښي استعمالول.
دسند دناوې کلکولي تيك د دورې د اوسيدونکو په نزد رسم الخط يو پټ
او مجهول شی نه ؤ که څه هم دغه رسم الخط هندي خواص لري مګر په غربي
ايشيا او نژدې شرق کښې دهغې زماني او معاصر رسم الخط سره مشابه دي
او دهغو په شان دغه رسم الخط تقريباً تصويري رسم الخط بلل کيدلی شي.

لنده داچه ددغو مراتبو په ذکر کولو سره بایدو ویل شي چه په عمومي ډول دا ندوس مدنیت دغربي آسیا او مصر د کلکولي تیك د دورې د ثقافت سره موافقت درلود، سربیره په دې د سند حوزې ځانته خپل ځینې ممیزات هم ارل چه د آسیا په غرب کښې د بین النهرین د سومریانو په مدنیت کښې نه لیدل کېدل . دمثال په ډول د پنبې پېژندل او د نغې کښت ؤ کرپه دې ځای پورې مخصوص ؤ او د آسیا غرب او مصر تر دوو زرو کالو نو پورې د مو ر ځینې خبر نه ؤ.

دغه رنګه د سرجان مارشال د نظریې له مخې د (موهنجو دیرو) او (هرپه) د او سېدونکو د تینګو او کلکو ښارونو ، لویو حماموتو او د کورونو جوړول یو داسې شی دی چه د مصر او بین النهرین په قبل التاریخ دورو کښې نه دی لیدل شوی ، البته په غربي آسیا کښې د پاچاهانو د تېرونو او معبدو په جوړولو کښې به ډېرې پیسې لګېدلې مګر د عامو خلکو ژوندون ډېر ساده او ټیټ ؤ ، او دختو په ډېرو ساده او معمولي کورونو به ئې قناعت کاوه ، حال داچه د اندوس په ناوه او حوزه کښې به عامو خلکو هم ډېر لوړ او ښکلي ځایونه او ودانۍ درلودې . د اندوس د حوزې او ناوې د کلکولي تیك د دورې او سېدونکو په صنعت کښې هم ډېر زیات مهارت درلود . سرجان مارشل وائي چه : (هغه مهرونه چه د کرپان لرونکو غوایانو او نورو حیوانانو تصویرونه پکښې کښتل شوي وو د هیکل تراشۍ د صنعت په لحاظ ډېر د ستاینې او تمجید وړ دي او ویلای شو چه یونان د کلاسیك تر زمانې پورې د هغو مثال په اسانۍ سره میدان ته نه دی راوتلی.)

په دغه ډول انګلیسي مدقق خپله نظریه ښکاره کوي چه د تېرې دورې خاص بیا د صیقلي شوو تیږو دورې او بیا هم د کلکولي تیك زمانې چه د دغې دورې وروستنۍ برخه ده په هند کښې په تېره بیا د سند په حوزه کښې ډېر رونق درلود، او دغه ځای په دغو دورو کښې د بشر د ژوندانه د پاره ډېر

مساعد او ښه ؤ .

دسند دناوې د کلی کولی تیك دزماني دمدنیت تفصیل چه دسرجان مارشل په عقیده په دغو خلاو پوری اړه لری چه ددغې منطقې دآریائیانو نه پخوا اوسېدل په دریو لویو جلدونو کښی د (موهینجودیرو اوسند دحوزې مدنیت) په نامه نشر شوی دی . ددغی مقدمې په آخر کښی چه دلومړی جلد په سر کښی چاپ شوې ده لیکل شوی دی چه له ډیرو قرینو څخه داسې معلومیږی چه داندوس له ناوې نه ترنیل پوری په دغه ټوله پراخه سیمه کښی له ډیرو پخوانیو زمانو څخه دمدنیت وزمه چلېدلې ده او په عین حال کښی په دې پراخه او پلنه سیمه کښی دغه مدنیت عمومیت دراود ، او هرې برخی ځانته محلی ممیزات هم لرل چه دغو په اثر محلی ثقافتونه په خاصو شکلونو میدان ته راوتلی دی . (۱)

ددغه لنډ ذکر نه وروسته چه په علمی څیړنو او پلټنو تینګ دی په دې کښی څه شك او شبهه نه پاتی کیږی چه دسند دسیند په حوزه کښی چه زمونږ ددمملکت او هند طبیعی او تاریخی سرحد دی دآریانا په شرق کښی د کلی کولی تیك مدنیت ډېره ترقی درلوده او مظاهر ئې تر (٦) زرو قم کلونو پوری هم لیدل شوی دی .

بلوچستان : دغو تحقیقاتو له مخې چه دبلوچستان په ځینو ځایو کښی لکه (نال Nal) او جالهوان چه کویټې ته نږدی دی او په نورو ځایو کښی شوی دی معلومیږی چه د کلکولی تیك دمدنیت شواهد څرګند چه داندوس په ناوه کښی لیدل شوی دی په دغو ځایو کښی هم خپاره شوی وو .

«انو» مروې ته نږدې : په ۱۹۳۳ کال کښی د یو امریکائی هیئت دپومپلی R.Pumpelly تر نظر لاندی مرې ته نږدې د (انو) نومی ځای په

---

(۱) د (موهنجودیرو اودسند دناوی مدنیت ) کتاب دلومړی جلد د مقدمی لس پاڼی دې وکتل شی . دغه کتاب سرجان مارشل لیکلی دی

اوجګک جنګ ځایونه اری چه دآریانا پخوانیو اوسیدونکو دښکار ددورې ژوندون په دغو ځایو کښې تیر کړی دی اوهم دلویو او مساعدو رودخانو په ناوو کښې لکه دمملکت په شرقي غاړه اندوس اوپه شمالي خوا اکسوس اودغربي برخې په منځ هیرمند کښې چه دسیستان هامون ته رسیږي تراوسه پورې دهغو پلټنو او کشفیاتو له مخې چه شوي دي د کلکولی تیك دزماني مدنیت په ٤—٥ زره‌قم کلو کښې او دهغو نه نژدې په لومړی پوزرق م کال کښې دنیل ، دجلې ، فرات ، اکسوس ، هیرمند اودنورو رودخانو په ناوو کښې پیداشوي دي ، اوسره ددې چه زمونږ دمملکت په دننه‌اوسني قلمرو کښې دغه ډول نوي اوتازه تحقیقات شروع شوي‌دي ویلای‌شوچه دآریانا ناخاورې ددغه لوی مدنیت په پیدا کیدو اوروزلو او دبیلو اړخونو په ارتباط کښې لوی مهم رول لوبولی دی .

**په افغاني سیستان کښې کشفیات** : تر ۱۹۳٦ کال پورې دافغانستان په‌دننه قلمرو کښې دقبل‌التاریخ په‌باب کښې تحقیقات شروع شوي نه‌وو په سیستان کښې د ( سراورل استن ) د تحقیقاتو او په بلوچستان کښې د(سر جان مارشل ) د کشفیاتو په‌اثر دفرانسې دحفریاتو هیئت تصمیم وکړ چه لومړی ځل په افغاني سیستان کښې په دغه ډول اقداماتو لاس پورې کړي موسیو (ها کن) او موسیو (ګریشمن) دخپلو ملګرو او همکارانو سره په‌دغه کال د ( کنګ کلا ) یعنې دافغاني سیستان مرکزته راغلل او دځمکو دلیدلو نه وروسته هیئت‌دوه برخې شو یوه‌ټولګۍ په ( نادعلی) او (زرنج) دسیستان په پخوانی پای تخت کښې‌چه د کنګ د کلا دجنوب په ۱۲ کیلومتری کښې‌دی په‌حفریاتو او کیندلو بوخت‌شو . اوبله‌ټولګۍ ( تاروسار ) ته نژدې دیوشډلن ځای په منځ کښې په یوه‌داسې‌ځای کښې چه ۲۵ کیلومتره له اوبو څخه لیرې ؤ د خپل کار لومړی لوازم برابر

اوتیار کړل. ددې دپاره چه دغه ځایونه ښه وپېژندل شی، لومړی دهغو په معرفی کولو او پېژندلو پیل کوو :

نادعلی : (۱) یوه داسې برخه ده چه دننني نقشې له مخې د (نادعلی) په نامه یادېږی په دې برخه کې یوه ډېره پراخه خرابه اوشاړه منطقه، یوه نوې جوړه شوې جنګی کلا، اودبلوڅو یو کوچنی کلی اوقریه شامله ده او (زرنج) نومی ځای دسیستان پخوانی پای تخت دی چه دآریانا دډېرو زړو اولرغونو ښارونو څخه ګڼل کېده. زرنج دسیستان دهامون په شرقی خوا کښې یوښارؤ چه دنوم اصلی ریښه ئی دهامون له او ستائی نوم څخه اخستل شوې ده چه (زیره Zareh) ده. بورنف وائی چه په زند کښې به سینداو دریا چې ته (زرایو Zraayo) یا (زرایانګ Zaranaogi) (۲) ویل کېدل اوله دغی کلمې څخه د (زارانکا Zaranka) کلمه جوړه شوې او میدان ته راوتلې ده (آرین) دزرنج دښار اوسېدونکی زرنجی Zarangi) بللی اوبطلیموس د (درانجی Drangi) په نامه یاد کړی دی .

په دې ټولو خبرو او بیاناتو کښې هریو پخپل ځای کې ښکاره کوی چه دزرنج ښار او اوسېدونکی ئی له ډېرو پخو ازمانو څخه مشهوررو. ددې لرغونی او پخوانی ښار خرابواوس هم ډېره پراخه ځمکه اومیدان نیولې دی او ددغو خرابو په مینځ کښې یوه لویه غونډۍ شته چه د پخوانیو ودانیو اوآبادیو دخښتو درنګ دسور والی له کبله چه تـر اوسه پوری پـه دغې غونډۍ باندی ددغو ودانیو ددېوالونو ټادووته موجوددی د (سورداغ - سرخ داغ) په نامه یادېږی . تقریباً د سرخ داغ دجنوب په څلورسوه متری کښې

---

(۱) د ۱۳۱۷ کال په سالنامه کښې دموسیو ګریشمن رپوټ ته دې مراجعه وشی.

(۲) د موسیو ګریشمن په افغانستان کښې د فرانسی دحفریاتو د هیئت د اوسنی رئیس د مقالی متن . د ۱۳۱۷ کال په سالنامه کښې د دې مقالی ترجمه دې وکتله شی .

د(سپین داغ - سفیدداغ) په نامه یوه لمه غونډۍ موجوده ده چه لوړوالی ئی تقریباً د لوړې غونډۍ په شان (۳۰ متره) دی، او ددې غونډۍ لمنې په تدریج سره ښکته شوی او داومو خښتو قطارونه پکښې لیدل کیږی دغه دوه غونډۍ دوه مهم ځایونه دی چه په دې ځای کښې د پخوانی او مهم ښار وجود څرګندیږی سرخ داغ په خپله په اصل کښې یوه هدیره او مقبره او سفید داغ جنګی کلاوه .

د سرخ داغ د سویل نمر پریواته په ۱۵۰۰ متری کښې یوه دریمه غونډۍ موجوده ده چه د لوړیو دوارو غونډیو څخه ټیټه ده او د میدان او پراخوالی له مخه له دغو دواړو نه لویه او پراخه ده په دې غونډۍ باندی د ناد علی د کوټ نوې جوړه شوې ودانی لیدل کیږی چه اوس پکښې عسکری قواوې پرتې دی .

هغه لاره چه اوس د(کنګ له کلا) نه د(قعله فتح) خواته تللې ده له دې وران ښار نه تیریږی او ځای په ځای د هغی د بهرنی دیوال ځینی برخی لیدل کیږی. دې ځای ته محلی خلك (د مرتضی علی د بنت) وائی ددې ځای بلکېدونکی خاورینی ټوټی او کردوړی چه ځمکه ئی پټه کړی ده ښکاره کوی چه دغه اسلامی ښار د سیستان د نورو ویرو ښارونو په شان په ۱۳۸٤ کال کښې د تیمور لنګ له خوا خراب شوی دی .

د شرق ، شمال، او د شمال شرق خواته د پخوانی ښار د دیوالونو تادوونه او ځینی برخې او ټوټی اوس هم پاتی دی او شته دی. دغه دیوالونه له اومو خښتو نه جوړ شوی وو. او د هغو داوسنی لوړوالی او جګوالی له مخې چه ٤ـ٥ متروته رسیږی د قیاس او اټکل په صورت ویلی شو چه د ښار د چاو او ساتنی ودانی ډیرې مهمې وې .

د سرخ داغ لمرخاته خواته د دغه زوړ دیوال یوه لویه او لوړه ټوټه د بلوڅو

کوچنی کلی چه د (نظرعلی خان کلا) نومیږی له سختو بادونو څخه ساتی. د کلااو دغی دشاؤ خوا ودانیو لمرخاته خواته دیوبل پخوانی ښار خرابی او کنډوالی پرتی دی ، او ددغو خرابو حالت د اسلامی ښار د(مرتضی علی دښت) دخرابو له وضعیت نه فرق لری. په دی ځای کښی دوروستنی ذکرشوی ښار په شان خرابی پر له پسې یوه په بلې باندی لویدلې نه ده بلکه ځای په ځای دځینو کورونو په منځ کښی اوار میدانونه پراته دی، او په بل ځای کښی پر کوچنیو غونډیو باندی فقط دمهتری د استوګنی ځای او کورلیدل کیږی . او یو څه وړاندی یو لږ نورې خرابی پرتې دی چه ددغه خرابو او دمخکینو ذکرشوو خرابو په منځ کښی د کرهنې ځمکی او کښتونه موجود دی . ددغه ښار له اوسنیو کنډوالو څخه چه تقریباً دوه نیم کیلو متره مربعه مسافه نیسی داسې معلومیږی چه له دې ښار څخه دنورو پخوانیو ښارونو په شان کلااو دیوالونه ګرځیدلی دی سربیره دخلکو پر کورونو او داستوګنی پر ځایو باغونه او کښتې ځمکی ئی هم لرلې. لکه چه دبابل دښار حالت هم همدغسی ؤ.

ددې ښار زیاتره ودانۍ او کورونه چه هغه دسیستان پخوانی پای تخت (زرنج) بلل کیږی له پخو کوچنیو خښتو څخه جوړ شوی وو. په دغه ځای کښی معمولی ګردوړی ډېر لږ لیدل کیږی او په هغو کښی خاکی رنګی یا توری ټوټی ډیرې کمی دی.

موسیو هاکن او موسیو ګریشمن دخپلو ملګرو سره په دوو ځایو کښی خپل تحقیقات شروع کړل چه یو ځای ئی د(سرخ داغ) په غونډی کښی او بل ئی په (سارو تار) کښی و د(سرخ داغ) دغونډی په باب کښی دموسیو ګریشمن ریپوټ د کابل د۱۳۱۷ کال په سالنامه کی هم نشر شوی دی د سرخ داغ غونډی د هغی لارې د لمرخاته خوا په یو کیلومتر کښی پرته ده چه د(کنګ کلا) د(قلعه فتح) سره نښلوی ، دغه غونډی نژدې ۲۰۰ متره

اوږد والی اوله ۵۰ نه تر ۶۰ مترو پورې پلنوالی او (۳۱) متره لوړوالی
لری ، ددې غونډۍ درې اړخونه یعنی شرقي شمالي ، او غربي خواوې
خوړل شوې او رژیدلي دي اوخوړوا لي لري ، او جنوبي اړخ ئې لږ شانته
خوړې لري . اوهغه ځای چه‌د کنستلو او کیند لو دپاره ، تا کل شوی دي
غربي لمنی ته نژدې دی .

اول نمبر ودانی: هغوودانیو ته چه‌دغونډۍ‌دپاسه‌وې‌اودآبادۍ‌دآخري

مرحلې او دهغې داشغال نماینده کې کوی دزما نو اوروز ګـاردلاسه دیر
زیانونه رسیدلی او نړیدلی دی . اودغه ځای په‌یوداسی تادو اوبنسټ ودان
شوی‌دی چه پخې اونیم پخته خښتې په کښې لګیدلې او کـار شوی‌دی ، او
یوه غیر منظمه سطحه ئې تشکیله کړې وه چه له دریونه تر څلورو مترو
پورې پیړ والی او ضخـامت ئې درلود ددی و دانی‌دیوالو نه ټول نړیدلی
دي ، اوپه هغه برخه کښې چه‌د کیندلو اوحفریاتو په‌ذریعه خالی شوی‌ده
ددیوال یوه‌برخه ښکاره شوه چه داوموخښتو نه جوړه شوی وه . اودهغه په
شاؤخوا کښې‌دداسی پخوخښتو ټوټې پیدا شوی دي‌چه‌سپین اوآبي رنګونه
ور کړی شوی دی . دغه خښتې دخونې په داخلی برخه کښې لګیدلی وې .
په‌ځمکه‌باندې په ۵۰-۱ فاصله کښې په نیم پخته خښتو کښې په بیضوی
یامربع شکل دهواد چلیدو دپاره مورې اوسوری ایستل شوی وو .

دوهم نمبرودانی: دحفریاتوپه‌آخر کښې‌په ۷۰-۷او ۵۰-۱۲ژوروالی کښې

داومو خښتوقطارونه پیدا شوی دي‌چه‌نورهم پسې ژور تللی دی دغه خښتې
ددې مقصد دپاره دغونډۍ په دیوال نښلولی شوی وې چه یوه‌لویه سطحه
ورځنی جوړه شي . په دغه ځای کښې یوه بله‌آبادی شروع شوې وه چه
یواځې په یوه خنډه کښې ئې حفریات شوی دی ، او دحفریـاتو نور کـار
یو بل وخت ته‌پریښودل شوی دی . ددغې‌ودانۍ‌په‌بهرنو دیوالونو کښې اومې

ښښتي او په داخلي ديوالونو کښي اومې او پخې ښښتي لګېدلي او کار شوي دي د اول نمبر ودانۍ کوډۍ د معمولي خاورينو لوښو ټوټې دي او د رنګه تزئيناتو او ښائسته والي نه بيخي خالي او ساده دي. د دغو لوښو د خاورې رنګ سور نصوارې ياخاکي دي. د دغو لوښو خټه او خميره دومره صافه نه ده، او د دغو لوښو غاړې نسبتاً پېړې او غټې دي، او دغه لوښي په څرخ سره جوړ شوي دي. په دغو لوښو کښي داسې جامونه چه بيخ ئې آوار او خوله ئې څه لږ شانتې پراخه ده، او داسې مرتبانونه لېدل شوي دي چه خولې ئې د مختلفې دي. په چوډنۍ شيانو کښي د درې اړخيزو غشو (پيکانو) سرونه ډېر مهم دي. هر کله چه له دغو غشو څخه يو ډول غشي ځانته غاښونه (دندانه) هم لري نو د سيستې د زمانې غشي را په ياد وي په وسلو کښي يو بل ډول وسله د چوډنۍ خنجر څو که هم کشفه شوي ده د کور او د سينګار د رواجي شيانو له جملې څخه يوه ستن هم موندل شوې ده چه سر ئې آوار او بيخ او سپومې ئې ګرد او غړند دي. او بله د سپينو زرو غوږوالۍ پيدا شوې ده.

د اول نمبر آبادۍ په ځمکه باندې د ډېرو لوښو ټوټې، د ښښتا بونو، کاسو او د داسې آونګونو نښانې پيدا شوي او په لاس راغلې دي چه له تورو او ډېرو خړو (خاکي) ښکلو سختو تېږو څخه جوړ شوي او په جوړښت کښي ئې ډېر غور او فکر شوي دي. په دغه ځاى کښي د هغو کوشيان ډېر لږ لېدل شوي دي او بيله يو پن اريوې تکمې نه بل شى په لاس ندى را غلى

د دوهم نمبر په ودانيو کښي ډول ډول او مختلف قسمونه کوډۍ لېدل شوي دي او موسيو ګريشمن هغه په څلورو برخو ويشلي دي:

اول: عادي کوډۍ، او لوښي ئې د ژيړې ياسرې خټې مرتبانونه او ګيلاسونه دي چه بيخ ئې آوار دي او ښکلي ليکي، خطونه او نقشونه لري

او د اوبو څکلو کوچنی خړرنګی لوښی ( آبخوري ) ، جامونه ، اولوی لوی برغولی اوسر پوښونه دی چه لیکی لیکی نقشونه او غوخ غوخ کالان ورباندی اچول شوی دی .

دوهم : سره کوددی دی چه لوښی ئی ډېر لږ پیدا کیږی او ځینی ځغه لوښی چه موندل شوی دی هغه تیا خونه او لګنونه دی چه بیخ ئی آواریا لږ څه راوتلی دی اوشاؤ خوا مور ګې ، غاړی اوږدی ئی تنګی یا پراخی دی او دپخې میده صافی خاورې څخه جوړ شوی دی او سورنصواری یا شیرچائی رنګ لری .

دریم : تور خاکی رنګی کوددی دی چه دلوښو نمونې ئی هم کمی پیدا کیږی اوپراخی دداسې ګیلاس ځینی توتی چه بیخ ئی آواردی ، دیوجام اودیوی اوږ دمخروکی توتې نه بل شی په لاس ندی راغلی (۱)

څلورم : رنګینه کوددی : په دغو پوری مربوط لرښی له ژیړې اوسرې ګلابی خاورې څخه جوړ شوی دی . دیو رنګ توریا سره لوښی ډېر کم پیدا کیږی . زیاتره دلوښو په نقشونو اوتزئیناتو کښی ډېر رنګونه په کارشوی دی ، او کالانو دلوښو په رنګولو کښی ددې خبری ډېر کوشش کړی دی چه دڅینکرنګ په مقابل کښی روښانه رنګ و کاروی لکه چه سپین اوژیړ رنګ ئی وارپه وار اوپه نوبت سره دتور اوسور رنګ سره استعمال کړی دی . درنګونو اختلاف ډېر زیات دی . سربیره پردغو رنګونودسور اوژیړ سره ګډ نارنجی رنګ لاس ته راغلی دی . اوژیړ څن سوراوجګړی رنګونه هم لیدل شوی دی . ددغو لوښو نقشونه ډېر ساده هندسی اشکال دی چه بیله کوم بل خاوړین مایع نه چه په هغو لوښو باندی لګول شوی او تیل

(۱) دغه ډول کوددی اولوښی کاشان ته نژدی د سیالك په غونډی کښی ډېر پیداشوی دی .

شوي وي مستقيماً دلوښو په اړخونو رسم شوي دي او عموماً په دغو لوښو باندې نيغې يا کږې (منحنی) دائروي ليکې، مثلثونه او دائرې ايستل شوي دي. له دغه ډول ړنګه کوډو ځخه يو اځي دوه تسمه لوښي په لاس راغلي دي چه يو ډول ئې داسې مرتبانو نه دي چه خيټې ئې راوتلي او تنه ئې اواره او غاړې او خولې ئې اوږدې او پراخې دي، او بل يو راز بړغولي او سرپوښونه دي چه په منځ کښې ئې نيولو دپاره غوټې هم موجوده ده.

په دوهم نمبر ودانيو کښې دوسلو له قسمو نو ځخه يو ډول دغشو سرونه دولې (بيد) دپانو په شکل هم پيدا کيږي چه په اول نمبر و دانيو کښې دغه ډول شيان هيڅ موندل شوي ندي دري اړخه دغشو سرونه هم په لاس راغلي دي

خاورينې تکمې، ملابند، پړن او بازوبند هم کشف شوي دي. دسرداغ دغونډۍ ددوهم نمبر ودانۍ له کوټو او خونو ځخه دسرو زرو درې شيان کشف شوي او په لاس راغلي دي: يو دبيش قبضې لاستی دی چه د مجدبي تکمې په شکل دی او شاؤ خوا ته څلور سورې لري. په اصل کښې د غه لاستي (دسته) له چون ځخه جوړ شوي دي او بيا دسروزرو په پاڼه کښې تاو شوي او لېم شوي دي. او په دغه لاستي باندې د (S) په صورت يو شکل ښکاره او واضحه معلوميږي، دوهم شی يوه تخته او پاڼه ده چه کوم شي ورباندې نصب دی او دمار پيچ په شکل ځرګنده تزئينات لري، دريم، يوه کوچنی قطعه يا يو پوښ دی. او له دې رنګو شيانو ځخه يو اځي يو لوی آونسک او دوه چومبې (دسته ها) موندل شوي دي او بس.

خارجي ارتباط او نتيجه: پخو مو وويل چه په افغانی سيستان کښې دقبل التاريخ په باب کښې پلټنې نوې شروع شوي دي او له هغو حفرياتو او کيندلو ځخه چه دسرخ داغ په غونډۍ کښې شوي دي هم د کار شروع معلوميږي. ځکه چه ددغې غونډۍ د (۳۱) متره لوړوالي ځخه يواځې ۵۰-۱۲

متره یعنی په ګمان دغونډۍ دریمه برخه کیندل شوې او د جلګې تر سطحې پورې (۲۱) متره نوره پاتې ده او له تجربې نه معلومه شوې او ثابته شوې ده چه عموماً ډېرې پخوانۍ او قدیمې ودانۍ د جلګې له سطحې نه ښکته دي. نو له دې کبله ځینې هغه معلومات چه نن ورځ ئې مونږ لرو د سرخ داغ دغونډۍ د ژوندانه د دوو آبادیو د دوو وروستیو زمانو په باب کښې دي چه په لومړي زر ق م کال کښې د زرنج د اوسیدونکو په ژوندون باندې څه لږه رڼا اچوي. نو له دې کبله مونږ اوس دومره شواهد نه لرو چه مونږ ئې د خارجي افق سره اندول او مقایسه کړو، او که چېرې مونږ ئې مقایسه هم وکړو نو د سرخ داغ دغونډۍ د ودانیو د وروستیو دوو دورو نښانې دي چه پخوانیو برخو ئې لا تر اوسه پورې لاس نه دی خوړلی، او سره له دې دومره ویل کیدای شي چه د سرخ داغ د دوهم نمبر ودانیو رنګین خاورین لوښي مروج ته نژدې د (انو) د رنګینو خاورینو لوښو سره شباهت لري. لکه چه موسیو ګریشمن د دغو دوو لوښو ترمنځ مقایسه وکړه او مستر اندروس په عمومي ډول د سیستان او (انو) د کلکولی تیك د دورې د لوښو په تخنیك، رنګ او تزئیناتو کښې ډېر مشابهتونه وینې. د موسیو ګریشمن د نظریې له مخې د سرخ داغ ځینې خاورین لوښي په تېره بیا تور خاکي خاورین لوښي او د کوزې (افتابې) د مخو کې ټوټې چه د مخه مو وویل د هغو شیانو سره شباهت لري چه کشان ته نژدې د سیالك (۱) د غونډۍ د (B) نمبر قبرونو څخه په لاس راغلي دي حتی د ده په نظریه د معمارۍ د اصولو له مخې هم د سیالك او سرخ داغ په منځ کښې شباهت شته.

موسیو ګریشمن د سرخ داغ په باب کښې د خپل ریپوټ په آخر کښې داسې نظریه ښکاره کوي:

---

(۱) د سیالك حفریات دوهم جلد د موسیو ګریشمن تالیف

(هغه برخه چه تر اوسه پوري کيندل شوي ده يوازې د دې غونډۍ د دوو آخرينو دورو د ژوندانه شواهد ښکاره کوي چه دواړه دوري په اوم-ړي يوزرقم کال پورې اړه لري. په هغه غونډۍ کښې چه ۳۱ متره لوړوالی لري او فقط ۵۰ - ۱۲ متره تر اوسه پورې کيندل شوي ده امکان لري چه ډېری پخوانۍ ودانۍ د جلګې له اوسنۍ سطحې څخه کښته وي لکه چه د فارس په غونډيو کښې غالباً د غې نظريې حقيقت پيدا کړی دی. هر کله چه تر اوسه پورې د دې غونډۍ نږه شل متره حصه لا نه ده کيندل شوي يوازې د شلو مترو د رقم له مخې په زړورتيا سره دغه فرضو لای شو چه په لاندينيو طبقو کښې به د رې او څلور زره کاله پخوا د خاورينو پخولو ښو په باره کښې معلومات پيدا شي او د فارس او سند د ناوې د غونډيو د کودړو سره ئې د ارتباط مسايل به څرګند او روښانه شي. )

د دې پورته څو کرښو څخه معلوميږي چه که څه هم دغه ډول تحقيقات نوي شروع شوي دي مګر د سند د ناوې او بلوچستان او د اکسوس د شمالي منطقو او د خزر او فارس د خليج ترمنځ ځمکو او څه لږ وړاندې په بين النهرين کښې تر سوزنيان او عيلام پورې د کلکولي تيك د دورې مدنيت د هلمند د ناوې او د سيستان د هامون د حوزې سره اړه او ارتباط لري. (سر اورل استن) دغه ډول نظريه ښکاره کوي چه د هيرمند او سيستان حوزې د کلکولي تيك د مدنيت تولې دورې ليدلي او تيرې کړې دي. د سيستان موقعيت او هغه رول چه پدې باره کښې ئې لوبولی دی مخصوصاً د يوانګيسی مدقق توجه ځانته را اړولی او ليکي چه په غرب کښې د (سوز) او په شمال کښې د (انو) او بلوچستان او د اندوس د ښکتنۍ حوزې ترمنځ د جنوب شرق خواته د سيستان موقعيت ډير مهم دی، او دغه قول ځايونه د يو قبل التاريخ مدنيت نه مستفيد وو (۱)

---

(۱) د اينر موسی ايشيا د سر اورل استن د تاليف ۹۵۶ - ۹۵۵ مخ
Innermost Asia by sir Aurel stein

سراورل استن د دغه مدنیت د بنباتو دمشابهت په باب کښ هم څیر شوی
اووائی چه: معلومه نه ده چه دمدنیت دښنباتو نژدې والی او قرابت دمهاجرت
له کبله پیداشوی دی او که دفتوحاتو او دوستانه روابطو او دتنګ راتګ له
مخې حاصل شوی دی . کوم شی چه واضح او ښکاره دی هغه د مدنیت عمومیت
دی او دسند له حوزی (موهنجوډیرو) او پنجاب له جنوب (هړپه) دبلوچستان له
(ژال) څخه داسې آثار په لاس راغلی دی چه دمختلفو خواو له مخه لـه یوې
خوا نه دبین النهرین د سومریا نو ته په خوامدنیت او دسوز دلـومړی او دوهم
مدنیتو سره او له بلې خوا دخزر دبحیرې نه هغې خواته د ( اکسوس شمال )
دمدنیت سره ډیر شباهت لری .هر کله چه سیستان ددغو تولو کرشوو ځایو په
منځ کښ یو وضعیعی لاره و ه نو دامکان نه لری نه ده چه خامخا په یو پولدې
ددغو ځایو په ارتباط کښ برخه ولری .

که چېرې نقشه و کتل شی نو دهیرمند دلتاد (اتو) او (موهنجودیرو) څخه
تقریباً پنځه سوه میله لری پرته ده ، دسیستان دا نه او لی تیلاک یا (کلکولی تیک)
ددورې دقبل التاریخ دخورینو لو ښو او هغو لو ښو تر منځ چه امریکائی
هیئت رو میولی له (اتو) څخه پیدا کړی او کشف کـړی دی پـه شکل
تخنیك او رنـګ کښې ډیر شبا هت موجود دی ، لـکه چه د غه نظر یـه
دمستر اندروس (Mr A.drenss) له خوا هم تصدیق شوې ده (۲)

نو له دغو بیاناتو څخه واضحه معلومیږی سره دد ې چه په افغانی سیستان
او د هیر مند په دلـتا کښې دقبل الا ریخ تحقیقات نوی شروع شو ی دی
او لاتر اوسه پوری ئی دمملـکت په ټو لو برخو کښې دوام ندی موندلی
بیا هم که د دغو لو مړنیو تحقیقاتو له مخې وی او که دهغو کشفیا تو په

(۲) دایشیا موست اینشا د کتاب دسراورل استن په تالیف ۳۰ فصل دې په دې موضوع لبنی
ر ا خره پورې و کتل شی .

اساس چه داندوس په حوزه اودا کسوس په شمال کښې اود آریانا د تاریخي سر حدود شاؤخوا سره تماس لري اود هغو لویو تدقیق کوونکو د نظریاتو له مخې چه په دغو پاسنیو کرښو کښې ئې نوم ذکر شو بیله شك او شبهې د آریانا خاوره نه یواځې د کلکولي تیك د مدنیت په لویه صحنه کښې شامله وه چه د سند له حوزې نه د نیل تر ناوې پورې خپره وه بلکه د هغې د مختلفو اړخونو د ارتباط مرکزي کړۍ او حلقه وه، او په دې باره کښې په یو لنډ مثال زیاته رڼا اچوو.

دآریانا په معاملو کښې لاجورد اود هغو اغېزه:

په هغو روابطو او معاملو کښې چه آریانا په قبل التاریخ زمانو او په تاریخي پخوانیو پېریو کښې د دنیا د پخوانیو اوزړو مملکتونو سره لرلې، یوشی په ثابت او محقق ډول رڼا اچوي، او هیڅوك د هغه له وجود نه انکار نشي کولی هغه لاجورد دی. د پخوانیو مؤرخینو د شهادت له مخې د لاجوردو کان په پخوانیو زمانو کښې بیله آریانا د شمال شرق یعنی بدخشان نه نور د ځمکې په هیڅ یوځای کښې نه پیدا کېده او خاص زموږ په مملکت کښې یو طبیعي محصول ؤ، د غه قیمتي کان د بدخشان د یمګان په دره کښې د (کران) لارې ته نژدې د (فرگامو) د کلي په شاؤخوا کښې موجود دی او اوس هم ترې لاجورد راوځي او د بانندې ملکونو ته لیږل کېږي.

پوهانو پخپلو کتنو او مطالعاتو کښې که په قبل التاریخ زمانو ښې وو او که په تاریخي پخوانیو عصرونو کښې په هر ځای کښې چه د دې قیمتي ډبرې اثر موندلی دی دا سې نتیجه ئې ورځنې اخستې ده چه زموږ د مملکت د شمال شرقي برخې او د نړۍ د نورو نقطو تر منځ تجارتي ارتباط او تګ راتګ جاري ؤ. د غه دی په دې ورو سته کرښو کښې لومړی هغه ځایونه

اوطبقی چه لاجورد پکښی پیدا شوی دی دهغه دتاریخ سره تر بحث لاندی راوړو ، اوورو سته بیا د هغه په شاؤخوا کښی تبصره کوو .

(۱) کاشان ته نژدی دسیالك غونډۍ : په دې ځای کښی ددریمې طبقی نه وروسته دلاجورد وکوچنی شیان پیدا شوی دی چه دتاریخ نسبت ئی دقم دڅلورمزر لو مړۍ نیمائی برخیته کیږی .

(۲)دسومر ځمکه : په دې ځای کښی (دقم دڅلورمزر په آخر نیوبرخو کښی) د (ایورur) د کورنۍ او سلالي د باچایانو له قبرونو څخه د سروزرو اوسپینو زرو ځینی دارازشیان موندل شوی دی چه دلاجورد وغمی اوتوتی پکښی کېښودل شوی دی . دغه رنګه د (علم) نومی آبدې څخه دمو سیقی ځینی داډول ښکلی آلات پیدا شوی دی چه دمیتو لوژی اود استانی صحنې پکښی په صدفو ، سرو عقیقو اولاجورد وخایسته شوی دی .

(۳)په بین النهرین کښی د(قم د۳۰۰۰—۳۵۰۰ په شاؤخوا کښی) درسم الخط دپیدا کېدو ددورې په آو ائلو کښی له هغی طبقی څخه چه (جمدت نصر) بلل کیږی دلاجورد شیان کشف شوی دی .

(٤)په سوزکی او کاشان ته نږدې دسیالك دغونډۍ په څلورمه طبقه کښی له هغې طبقې څخه چه یو څه خاورینی توتی دقبل التاریخ دلیکنو سره په لاس راغلی دی ، په لاجوردو جړاؤ ډېرې ګانۍ کشفی شوی دی .

(٥)په مصر کښی د(توتان خامون ( ToutanKhammon ) له مقبرې څخه چه تاریخ ئی د ۱٤۰۰ ق م په شاؤخوا کښی تاکل کیږی دلاجوردی ډېرو څخه ډېر شیان پیدا شوی دی .

(٦) په عیلام کښی دشو شیناك (Chouchinak) له خزانې څخه د(۱۱۰۰ق م) په شاؤخوا کښی دلاجوردو تنبی او آثار موندل شوی دی . (۱)

---

(۱)د آریانا دمجلی په لومړۍ ګڼه کښی دې تر دې عنوان لاندی مقاله ولوستله شی (دآسیاد غربی مملکتو سره دآریانا دمراوداتو په تاریخ کښی لاجورد او دهغو رول)

له د غوپوړو تنیو ځینو بیا ناتو او کتنو څخه معلومیږي چه دآریا ناد شمال شرقي آخرینو برخو لاجورد په څلور زره (ق م) کښې یعني د نن ورځې نه شپږ زره کاله پخوا دآسیا په ټولو غربي مملکتو کښې د فارس له خاوري نه نیولې دنیل تر ناوي پوري خپاره شوي و. دسومر په ځمکو او بین النهرین او د فارس دخلیج او خزر دغاړو په جنوبي ځمکو کښې چه دعیلامي ټولانو ملانده راغلی ږی او په دري زره ق م کښې دعیلام کولتور په دغو ځایو کښې قوت موندلی ؤ. لاجورد مشهور وو او اهمیت ئې پیدا کړی ؤ.

او پخوا له دي نه چه په بین النهرین کښې د ۳۰۰۰ - او ۳۵۰۰ ق م په شاؤخوا کښې رسم الخط پیدا شي دهغه ځای دمد نیت په طبقو کښې لاجوردي شیان لیدل کیږي.

لاجورد ګانې او لاجوردي شیان دفارس په خاوره او ددجلې او فرات په حوزو کښې یعني دسومر او عیلام په خاوري پوري محدود او مخصوص نه وو بلکه دفراعنه وځمکو ته هم رسیدلي وو. لکه چه دمخه مو وویل چه د(توتا نخامون) له مقبري څخه چه تاریخ ئې ۱٤۰۰ ق م ته کل کیږي دلاجوردي ډیر څخه ډیر شیان په لاس راغلي دي.

نو د بدخشان لاجورد او د غربي آسیا په مختلفو ځایو کښې دهغو وجود حتی شپږ زره کاله له پخوا یو قطعي دلیل دی او هغه شي چه دآریا ناد کلکو لی تیك دزمانې د قبل التاریخ د مدنیتو او دآسیا د غربي مملکتو سره د هغو دارتباطاو داندوس له حوزي نه دنیل تر حوزي پوري دغه لوی مدنیت داهمیت په باب کښې موو لیکه ټول په واضح ډول تائیدوي. داموهم دمخه دسر اورل استین په لیکنو مستند و ښود ل چه سیستان او دهیر مند حوزي (۱) دخپل جغرافیائي مناسب

(۱) سر جان مارشال د موهنجو دیرو او دسند دناوي دمدنیت دلو مړي جلد دمقدمې په (۲) مخ کښې وائي چه: بشر دنیل، فرات، کارون، او د هلمند او اندوس په حوزو کښې یوه نګه خپل مدنیت خپور کړی دی.

موقعیت له کبله په قبل التاریخ زمانو کښې ددې لوئی ساحې د کلکولی تیاك دمدنیت دمختلفو اړخونو په خپرولو کښې مهم رول لوبولی دی . لاجورد او په هغو ځایو کښې چه دمخه وویل شول دلاجوردو خپربدل په ډېر واضح صورت ښکاره کوی چه: شپېږزره کاله پخوا حتی د آریانا په هغو ځایو کښې چه تګ اوراتګ پکښې ډېر سخت ؤ او په ډېروغرنیو برخو کښې چه دبدخشان نه عبارت دی دتګ اوراتګ اود تجارت لارې هم موجودې وې ، اودغه طبیعی لاره له یوې خوا د باختر پراخې جلګې ته اود آریانا د غربی برخود رود خانو مدنیت یا لوټکو او سمسورو حوزو مخصوصاً د هیرمند اوسیستان حوزې ته ورغلې ده ، او له دغه ځای نه دزیا تروا حتما لو نو له مخې د هغو برخو ترڅنګ چه د مخه مو ذکر کړې د سپین سیند (دریای سفید) سواحلو اودنیل ناوې ته رسېد له . (بارتولد) پخپله تاریخی جغرافیه کښې دمصر او اشور په پخوانیو ودانو کښې د لاجوردو د له شته والی نه بحث کړی اودې نتیجې ته رسېږی چه دتاریخ په ډېرو پخوانیو زمانو کښې دباختری آریانا ئیانو اود اسیادغربی مملکتو اود سپین دریاب دسواحلو داو سېدو نکو ترمنځ روابط موجود وو ، د هغو تو ارېخو په استناد چه دمخه مو په محقق ډول وټاکل ویلی شو چه نه یوازې په ډېرو پخوانیو تاریخی زمانو کښې بلکه خامخا په ډېرو پخوانیو دورو کښې چه دقبل التاریخ دزمانو جزء ، شی دباختری آریا ئیانو اوداسیا د غربی مملکتو ترمنځ روابط موجود وو ، آریا ئیانو لکه چه په راتلو نکو فصلو نو کښې به ئې بیان کړو خپل ډېر پخوانی تاریخی ادبی اوحماسی عنعنات په باختر او دآریانا په نورو ځایو کښې میدان ته را ایستلی وو اود ۲۰۰۰ق م په شاؤخوا کښې دشرق (هند) اوغرب (فارس) خواته ئې په مهاجرت پیل کړی دی . دغه مطالب به پخپل ځای اوموقع کښې

کښې په تفصیل سره بیان شي . په دې ځای کښې دقبل التاریخ په پلټنو او تجسساتو پورې مربوط همدومره قدر وایو چه دهغو کشفیاتو له مخې چه په فارس کښې کاشان ته نږدې دسیالك په غونډیه کښې شوي دي آریائیان د ۱۰۰۰ ق م په شاؤخوا کښې دلوط دصحرا نه هغې خوا ځمکو کښې را پیدا شوي . (۲) او دوی لکه چه په راتلونکو فصلونو کښې به را شي هغه مهاجرین دي چه د (۱۹۰۰ - او ۲۰۰۰ ق م) په شاؤخوا کښې له باختر نه دسیستان ، هیرمند او دهریرود ددرې د لاروڼه دغې خواته تللي دي .

---

(۱) د دغه نظریه په دغې نتیجې یا ندی مستنده ده چه موږ سیو گریشمن دخپلو حفریاتو نه په لاس راوړي ده .